مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

شاهولي ارين

۲۰۲۵/۰۶/۱۲

# چې څه کرې، هغه به ريبې

## (ديارلسمه برخه)

**پير سيد احمد ګيلاني:**



پير سيداحمد ګيلاني په۱۳۱۱لمريز کال کې د ننګرهار ولايت په سره رود ولسوالۍ کې وزيږيد.» د نسب سلسه يي د قادريه طريقت د لړۍ بنسټ اېښودونکي عبدالقادر ګيلاني ته رسيږي د تصوفو له دريو مشهورو طريقو څخه يوه هم د قادريي طريقه ده، چې بنسټ اېښودونکي يي د ګيلاني پلار شيخ محی الدين عبدالقادر ګيلانی بن ابی صالح چنګی دوست بن عبدالله بن موسی بن عبدالمخلص بن حسن المثنی بن علی بن ابی طالب دی. بايد يادونه وکړم، چې په ځينو کتابونو کې ابومحمدعلوی حسنی او په ځينو کې وروسته له موسی بن عبدالله بن امام حسن ذکر راغلی دی.

په شرق کې اولنی شخص دی، چې د اولياء په لقب يادېږی او مريدان يي غوث الثقلين، شيخ کل، د مشرق شيخ او غوث ګيلانی يادوی. پروفيسور شوشتری ددي شيخ د زوکړې نېټه ۱۰۷۸م ۱۱۶۶م يادوی او د پيدايښت ځای يي د بين النهرين ګيلان او ځيني يي بيا د ګيلان غرب خواته يادوي» چې د دغو شواهدو له نظره پير صاحب په اصل کې افغان نه دي او عربو ته منصوب کيږي.

ګيلاني خپلې لومړنی زده کړې په امام ابوحنيفه مدرسه کې وکړې او وروسته د کابل پوهنتون د شرعياتو پوهنځي څخه فارغ شو.

نومورې ۱۹۵۲ ميلادي کال کې د افغانستان پخواني پاچا حبيب الله خان له لمسی عاليې سره واده وکړ او د هغه وخت سلطنتي کورنی ته نور هم ورنږدی شو، پيرانو او حضرتانو د هغه وخت په دربارنو کې خاص ځای درلود.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼي پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په خير و لولئ

ملي محاذ د شپیتمي لسیزې پر مهال د هغو اوه تنظیمونو د ایتلاف برخه وه، چې مرکز یې پېښور کې و، خو د اوویایمې لسیزې اوږدو کې چې افغانستان کې کورنۍ جګړې رواني وې، ملي محاذ تر ډېره څنډې ته شو.

د ګیلاني په خبره، د نوموړي د تنظیم پلویان په ختیځ او جنوب ختیځ کې اوسیدل او د نورو تنظیمونو په څېر هر ځای کې فعال نه و. د دې تنظیم غړي مکتبي نه و، د حزب اسلامي او جمعیت اسلامي تنظیمونو په څېر ایډیالوژیکه او بنیادي نظریه یې نه درلوده، چې پر جګړه یې ډېر ټینګار کاوه، همدا علت و چې له ملي محاذ سره کمه مرسته تر سره کېدله.

په وروستیو کلونو کې پیر سید احمد ګیلاني په افغانستان کې د مهمو سیاسي ستو له ډلې و او له جهادي مشرانو سره یې یو ځای په سیاسي ناستو کې ګډون کاوه.

د افغان مقاومت د څېړنو دفتر مشر شېرشا یوسفزی چې پیر ګیلاني او په پېښور کې مېشت نور جهادي مشران یې پېژندل،« په دې باور دی چې د افغان مقاومت پر مهال ملي محاذ د حزب اسلامي او جمعیت اسلامي په پرتله په وسلواله جګړه کې لږ رول درلود.»

د ګیلاني کورنۍ له لسیزو راهیسې په افغانستان کې مهم سیاسي او روحاني حیثیت درلود او لري یې. نوموړی په افغانستان کې د قادریه طریقت سلسلې د' پیر ' په حیث پېژندل کېده او ګڼ شمېر مریدان لري.

د دې تنظیم پخواني مرستیال فاروق اعظم وایي:

« د کورنۍ جګړې پر مهال پیر سید احمد ګیلاني غوښتل چې د مختلفو جهادي ډلو تر منځ د منځګړي رول ولوبوي او جګړې ته د پای ټکی کېږدي.»

ګیلاني پر افغانستان د شوروي د یرغل پر مهال د افغانستان د ساتنې او جهاد له پاره پاکستان ته هجرت وکړ او هلته یې د نورو جهادي مشرانو په توګه د بهرنیو استخباراتي شبکو مرستې تر لاسه کړې، د خپل تنظیم مشري او رهبري یې وکړه، د ملي محاذ په نامه تنظیم یې جوړ کړ چې پلویانو یې نسبت د نورو جهادي تنظیمونو په پرتله د انسان وژنو هیواد ورانونو او نورو برخو کې یو څه نرم سیاست او موضیعګري درلوده.

دی په خپله خورا ارام، متواضع او نورمال شخصیت بریښیده، خو د کورنۍ نور غړي لکه سید حامد ګیلاني، سید اسحاق ګیلاني په استخباراتي شبکو کې د هیواد پلورنې، چور چپاول د ځمکو په غصب کې له نورو غلو کم لاس نه درلود.
پیر سید احمد، سید حامد، او سید اسحاق ګیلانیان عادی پیران و، خو اوس مهال له ۵۳۰ میلونو نه د زیاتو ډالرو خاوندان او د سلګونو جریبو ځمکو غاصبین دي.

نوربیا


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ